# پښتو لنډکی ګرامر

## د ښوونځیو زده کوونکو لپاره

پدې کتابګوټي کې:

- لیکنښې
- پښتو یاګانې
- غږونه
- توري
- کلمې
- نومونه
- نومځري
- فعلونه

او داسې نورو اړوندو توکو د کارونې ځایونه په پوره او ښکلي ډول تشریح شوي دي.




ترتیبونکی: خادم غیرت

فیسبوک: خادم غیرت

اړیکه: ۰۷۷۰۶۷۶۷۴۸

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پیل خبرې

اوس کې د خوښۍ خبره دا ده، چې: پښتو ژبه ورځ تر بلې د پرمختګ په حال کې ده او نږدې هره اوونۍ کې په لسګونه کتابونه لیکل کېږي او هم له نورو ژبو څخه پښتو ژبې ته را ژباړل کېږي، چې په پښتو ژبه کې د ټولو علومو د ماخذنو او مالوماتو په ډېروالي کې یې مهم رول لوبولی دی. اوس تقریباً زموږ زده کوونکی/ محصل کولی شي، په خپله خوږه پښتو ژبه کې د یوې علمي موضوع اړوند ډېر ماخذونو پیدا کړي.

ګلونو زده کوونکو!

پښتو زموږ مورنۍ ژبه ده. دا پر موږ حق لري، چې د پرمختګ لپاره یې کار وکړو او خپله پښتو ژبه هېرؤلو ته ورنکړو. د دې لپاره، چې پښتو ژبه مو سمه لوستې وي، لیکلي او ویلې مو وي او څه ناڅه مو د پښتو ژبې په بډاینه، خدمت او پرمختګ کې برخه اخېستې وي، باید خپله ژبه سمه زده کړو، ؤیې لیکو او ؤیې وایو.

پدې کتاب کې: لیك نښې، پښتو یاګانې، غږونه، توري، نومونه، نومځري، فعلونه او داسې نور اړوندو توکو د کارؤنې ځایونه په پوره او ډېر ښکلي ډول تشریح شوي دي.

د دې وړوکي کتابګوټي په جوړؤلو کې مې، د پښتو ژبې پیاوړو لیکوالو، هر یو ((محمد ابراهیم همکار صیب، د لیکوالي له کتاب او د ښاغلي محمد آقا شېرزاد د لیکوالي)) له کتابونو څخه ترتیب کړی. یاده دې وي، چې د پوهنې وزارت

د نصاب پښتو کتابونو څخه مې استفاده کړې او تر وسه وسه مې ټولې موضوعګانې ښې تشریح او ښکاره کړې دي. هیله ده، زما دا کمه خواري ستاسو د زده کړې سبب وګرځي.

په مینه!

استاد خادم غیرت

**لیک نښې:**

که توری وجود دی، نو لیك نښه یې سا ده، په کوم وجود کې چې سا نه وي، حرکت یې نا شونی دی. په دغه لنډ نوټ کې د لیك نښو په اړه خبرې اترې تاسو له ډېری هغو نښو سره اشنا کوي، چې په ورځني ژوند کې په عملي توګه ورسره مخ یئ. د لیك نښو بېلا بېل ډولونه، د کارونې له ځایونو سره اشنايي او همدارنګه د هغو ارزښت کولی شي، ستاسې لیکنه د لوستونکو په پوهونه کې کارنده تمامه کړي.

د کمپیوټر په راتلو په دغو نښو کې ډېرښت را منځته شوی دی. دلته هغه لیك نښې راوړل شوې دي، چې په عام ډول په یوه بڼه او مانا په لیکوالۍ کې کارول کېږي. د کمپیوټر په ( سېمبول) برخه کې خورا ډېرې نښې شته، چې موږ کولای شوو، د خپل ذوق او د لیکنې د ښکلا په پام کې نیولو سره ورڅخه پر ځای ګټه پورته کړوو.

لیك نښې په لیك کې را پیدا شوې، چې په تلفظ ( ویون ) پورې اړه نه لري، بلکې د ترافیکي نښو غوندې په چوپه خوله یوه مفکوره د لوستونکي ذهن ته لېږدوي، چې دغو نښو ته په لیکوالۍ کې لیك نښې وایي.

هغه لیکنه چې موږ یې په بشپړوالي تعریفوو، نو د تورو او لیك نښو دواړوو له یو ځای کېدو څخه به لاسته راغلې وي. هغه لیکنه، چې د لیك نښو له کارونې تشه وي او یا هم دغه لیك نښې پکې پر خپل ځای نه وي کارول شوې، نیمګړې ګڼل کېږي.

د لیك نښو زده کړه باید  په لومړنیو ټولګیو کې زده کوونکو ته په ورو ورو، لکه د تورو  د زده کړې په څېر ور وښودل شي. کله چې دوی اووم ټولګي ته رسېږي، باید د ډېرو لیك نښو په کارونه او یا هم مفهوم اخېستنه برلاسي وي.

زموږ ستونزه دا ده، چې لومړی ډېری لیکوال  له دغو  نښو سره اشنایي نه لري او که لیکوال ورسره اشنایي ولري، بیا لوستونکی یې په مانا او موخه  نه پوهېږي.  حال دا، چې دغه برخه هم د لیك او لیکوالۍ بنسټیزه برخه ده او ټولو  لوستونکو او لیکوالو ته پرې پوهه لرل یوه اړینه خبره ده.

## د لیك نښنو ارزښت

د لیك نښنو په کارونه؛ لیکنه له تېروتنو ژغورل کېږي، یانې ډېری وخت د کلمو تر منځ د وصل یا بېلوالي خبره وي، نو موږ یې د همدغو لیك نښنو په واسطه د وصل له حالته ژغورلای شو. کله هم د یوې جملې د ویون ( تلفظ) له مخې د جملې مانا بدلون مومي، چې دا هم موږ د لیك نښنو په کارؤنه تر سره کولای شوو. د خپلو خبرو او نورو لیکوالو د لیکنو توپیر په لیکنه کې د لیك نښنو په واسطه کېږي، چېرته ځنډ په کار دی، چېرته پوره درېدنه په کار ده. همدا ډول ډېری دندې دي، چې په لیکنه کې یې لیك نښې تر سره کوي او موږ کولای شوو، په ښه، اسانه او بې تېروتنې خپله مفکوره نورو ته د لیك او لیك نښنو په مرسته په ښه ډول ولېږدوو، چې په همدې دلیل یې ارزښت زموږ پاملرنه ځانته را ګرځوي او موږ اړ باسي، چې په لیکنه کې ځانګړې پاملرنه ورته وکړوو. لاندې جمله ولولئ:

احمد راووت پر سر، خولۍ پر پښو، بوټونه په لاس کې، کتابونه په منډه ولاړ.

په پورته جمله کې د ( ،) کامې لیك نښنه پر خپل ځای نه ده کارول شوې؛ نو ځکه اړینه ده، چې لوستونکی او لیکوال دواړه د لیك نښنو ځایونه وپېژني. اوس نوموړې لیك نښنه په خپل ځای کاروو.

احمد راووت، پر سر خولۍ، په پښو بوټونه، په لاس کې کتابونه په منډه ولاړ.

اوس هغه لیك نښې، چې په پښتو ژبه کې ډېرې کارول کېږي په ترتیب سره یې د کارونې ځایونه او دندې در پېژنوو. د کمپیوټر زمانه ده، لیك نښې په ډېری ژبو کې کارول کېږي، د ټولو راوړل ناشونې دي؛ خو ځینې یې بیا لیکوال د خپلې لیکنې له حال سره برابرې، په خپل ذوق کارولی شي. دلته هغه لیـــك نښې، چې موږ ور څخه په بشپـــړه توګه نـــا چاره یوو، راوړوو.

## ټکی (.) یا full stop

د کارونې ځایونه یې:

۱- د ټکي ځانګړې او ډېره کـارونه د بشپړې جملې پۀ پای کې کېږي، لکه:

نن د افغانستان د کرکټ ملي لوبډلې او انګلستان د کرکټ لوبډلې تر منځ سیالي ده.

۲- له هغو دوو بشپړو جملو څخه د وروستۍ په پای کې ټکی کارول کېږي، چې په (او) ربطي ویکي تړل شوې وي، لکه:

زه سهار اته بجې ښوونځي ته راغلم او د لیکوالۍ اړوند لیکنه مې پیل کړه.

۳- په لیکنه کې تر مخففاتو وروسته راځي او دغسې هر توری د خپلې ځانګړې کلمې د مفهوم د افادې استازیتوب کوي، لکه:

(ا.ا.ج) د افغانستان اسلامي جمهوریت

(پ.ژ.ا.څ) پښتو ژبې او ادب څانګه

(N.U) Nangarhar University

**۴- د پرلپسې شمېرو تر منځ یا د ابجدو په بڼه د تورو تر منځ:**
(۱,۲,۳,۴) یا (الف. ب. ج. د)

**۵- د نېټو د شمېر تر منځ، لکه:**
(**۱۳۹۵,۱,۴** ل) (**۲۰۱۶. ۳,۳۴**)

**۶- د هغه لېست د شمېرو تر څنګ، چې سر پر سر لیکل شوي وي، لکه:**

۱. کتابونــه
۲. کتابچې
۳. قلمونه
۴. پنسلونه

**کامه تر لاندې ټکی (؛) semi colon**

دغه نښه له (ټکي) څخه کمه او له کامې څخه د ډېر ځنډ لپاره کارول کېږي.

د کارونې ځایونه یې لاندې راوړوو:

۱- د دوو عمدوو اوه سترو فقرو تر منځ په دې شرط راوړل کېږي، چې دغه عمده فقرې په (او، خو، لپاره) او داسې نورو اړیك ویيکو نه وي تړل شوي، لکه:

**محصل ته په وخت لکچر، چپتړ او مشوره ورکول اړین کار دی؛ ښه استاد هم همېشه خپل کارونه په خپل وخت سرته رسوي.**

۲- د دوو داسې جملو تر منځ چې وروستۍ جمله د لومړۍ جملې تشریح وي، لکه:
د محصل دنده پوهنځي ته تلل او درس لوستل دي؛ د هېوادوالو خدمت ته ځان چمتو کول دي.
مال او دولت هېڅکله د انسان د زړه د آرامتیا سبب نه کرځي؛ ولې چې د انسان د زړه سکون د الله (ج) په یادونه کې دی.

**ندایه یا د غږ نښه ( ! ) (Exclamation Mark)**

دغه نښه په ډېرو ځایونو یا حالتونو کې کارول کېږي، لکه:
۱- **تعجب**: دا څه وایې، رښتیا!
۲- **تأکید**: دا کار به ضرور تر سره کوې!
۳- **تحسین**: آفرین!، شاباس!
۴- **تحقیر** ( سپکاوی): ورك شه، احمقه!
۵- تنفر (کرکه): مخ یې ماته مه ښیه!
۶- ترحم: ډېر بې وزلی دی!
۷- شك او تردید: گومان نه کوم، چې دا کار ترسره کړي!
۸- امر او نهې: ولیکۍ! مه لیکۍ!
۹- تهدید: که دغه کار دې وکړ، زه به دې خوښ شم!
۱۰- حسرت ( ارمان):
ارمان ارمان د دادا کوره
له ډکه شکوره به چاپېره تاوېدمه!
۱۱- هیله: که دا ځل بریالی شوم، ډوډۍ درباندې خورم!
۱۲- درد: ډېر درد کوي! اوف، وای!

۱۳- دعا: الله (ج) دې مل شه!
۱۴- تنبیه: زموږ هېـــواد جنت نشـــان دی، خدمت یې پر موږ فرض دی!
۱۵- غږ او خطاب: صالح ګله!درنو ګډونوالو!
۱۶- هغه عامه جمله چې د آهنګ له مخې په تعجبي بڼه اوړي، لکه:
احمد راغلی دی!
۱۷- تأسف (افسوس) کاشکې احمد مې لیدلای وای!
۱۸- استهزا (خندا): دلته د ندا نښه د نقل د نښو لېندیو تر منځ نیول کېږي، هماغه د تمسخر او خندا له کلمې نه وروسته، لکه:
ای عقلمنده (!)، پوره نابغه یې(!)
که د اریانتیا او افسوس له کلمې سره ندایه جمله راشي، هلته نو باید تر کلمې وروسته کامه او تر جملې وروسته غږ نښه ولیکله شي، لکه:
- افسوس، په ځومره ځوانۍ کې مړ شو!
- واخ، دی خو زما انډیوال و!
ومو ویل، چې دغه نښه د تعجب، شاباس او افسوس په ځای کې هم راوړل کېږي ،خو د زیات تعجب، استهزاء او زیات خبرداري په وخت کې دوه ځله، بلکې درې ځله هم لیکل کېږي، لکه:
آفرین ستا په دې غیرت او مېړانه!!!

**پوښتن نښه (؟)**

دې نښې ته سواليه، د سوال نښه، پوښتنيزه، تپوسنۍ، د استفهام علامه وايي.

دا نښه د پوښتنې په وخت کې راوړل کېږي او د هر ډول سواليه جملو په پای کې راځي، لکه:

ستاسو د پښتو ښوونکی څه نومېږي؟

ښوونځي ته ولې نه يې تللی؟

د پوښتنې نښه په لاندې ځايونو کې کارېږي:

۱- د مخامخ پوښتنې په پای کې يا د هغې جملې په پای کې د پوښتنې نښه راځي، چې د مالوماتو د غوښتلو او ځان پوهولو لپاره د مقابل لوري نه کېږي، لکه:

ستا نوم څه دی ؟

درس ولې نه لولې؟

۲- په متن کې د هغو کلمو جملو يا تاريخي نېټو تر څنګ چې شك پکې را پيدا کېږي. په متن کې د ننه پوښتن نښه په ليندېو کې نيول کېږي، لکه:

د بايزيد روښان د مړينې کال (۹۸۰ هـ.ق) (؟) ښودل شوی دی.

۳- کله چې په يوه جمله کې د ننه کومه پوښتنه راغلې وي. البته دغه نښه تر بشپړې جملې وروسته نه راځي؛ بلکې تر پوښتنې وروسته واقع کېږي، لکه:

- اتلس کاله پخوا دې په ياد دي؟ روسان له افغانستان څخه په ماتې ووتل.

- څلوېښت کاله پخوا دې په یاد دي؟ موټران خورا لږ وو. دا جمله داسې هم راتلای شي:
- په یاد دې دي، چې څلوېښت کاله پخوا موټران خورا لږ وو؟
**۴**- د هغو جملو په پای کې چې د آهنګ له مخې پوښتنیزه بڼه اخلي، لکه: احمد راغلی دی؟

**د ندایې او پوښتن نښې ګډه بڼه (!؟)**

کله کله ځینې لیکوال د پوښتنې او ندایې نښې دواړه څنګ په څنګ د یوې جملې په پای کې راوړي؛ خو شرط یې دا دی، چې ندایې نښه به لومړۍ او پوښتن نښه وروسته راوړل کېږي. له دې څخه موخه دا وي، چې له جملې څخه لومړی تعجب او بیا پوښتنه را ولاړېږي.

په رسنیزو یا اخباري جملو کې ډېری داسې جملې مطرح کېږي، چې په خپله منځپانګه کې تعجب او پوښتنه دواړه لري. د بېلګې په ډول، کله چې د (۱۳۹۳ ل) کال د (جوزا) په میاشت کې دویم ځل د ډاکټر اشرف غني او عبد الله عبدالله تر منځ ولسمشریزې ټاکنې وشوې، نو د ګرم خبر بڼه دا جمله ډېره مخې ته راغله:

د ډاکټر اشرف غني او ډاکټر عبدالله عبدالله تر منځ د ملي یووالي حکومت جوړېږي!؟

پورته د ډاکټر اشرف غني او عبدالله عبدالله تر منځ په یوه حکومت کې را یو ځای کېدل د تعجب وړ خبره وه او بیا د

( ملي يووالي حکومت) د خلکو د پوښتني سبب شو؛ نو ځکه د د ې جملې په پای کې (!؟) نښه راوړل اړين شو.

تر پورته جملې ډېر دې جملې ولس په تعجب او پوښتنه کې ښکېل کړ:

د جمهوري رياست تر څنګ به اجراييه رياست رامنځته کېږي او عبدالله به يې رئيس وي!؟

اجراييه رياست لومړی په اساسي قانون کې نه و؛ نو په دغې جملې کې د تعجب او هم د پوښتنې وړ خبر تغښتی و.

په پورته ډول هره جمله چې تعجب او پوښتنه په خپل ځان کې ولري، د ندايې او پوښتني ګډه نښه ورته راوړل کېږي، لکه:

پاکستان او هندوستان په ګډه د افغانستان د ودانولو پروتوکول لاسليك کړ!؟

**شارحه يا څرګند نښه (:)**

د کارونې ځايونه يې:

کله چې تر يوې کلمې يا جملې وروسته د هماغې جملې او کلمې شرحه راوړل اړين وي، بيا ليکوال دغه نښه راوړي، لکه:

د ژوندانه د کاميابۍ ستنې دا دي: پوهه، روغتيا او زيار.

١- هغه کلمې چې ورپسې يې مانا راغلې وي، لکه:

پښ: آهنګر

لاله: غاټول

٢- کله چې په خپله ليکنه کې د بل چا مستقيم نقل قول را اخلوو، تر غبرګو ليندیو مخکې دغه نښه راوړو، لکه: حضرت

محمد (ص) فرمايلي دي: (( ځه چې د ځان لپاره خوښوئ، نورو ته يې هم خوښوئ.))

۳- دا نښه هغه وخت د دوو فقرو په منځ کې يوه لاژمه نښه ده، چې دوهمه فقره لومړۍ فقره تشريح کړي، لکه: د ګلالۍ کور ډېر ساده جوړ شوی دی: درې خونې، يو دهلېز او يو پخلنځی لري.

۴- دا نښه هغه وخت هم راځي، چې تر يوې عمده فقرې وروسته ځينې مهم نومونه او مفهمونه د تشريح لپاره راشي. البته په دغه وخت کې بايد نومورې نښه تر يوې بشپړې فقرې وروسته راوړله شي، لکه: د ده ټول ادبي استادان جهاني شهرت لري: اجمل ښکلی، تولستوی، اسدالله غصنفر او او عبدالغفور لېوال دي.

په لاندې بېلابېلو ځايونو کې د شارحې کارول:

۱- د ساعتونو او دقيقو د بېلولو لپاره، لکه:

- ( ۱۱:۳۰ )يوولس بجې او دېرش دقيقې

۲- د اخځليکونو (ماخذ) او کتابښود د ځينو اجزاوو تر منځ:

- د خوشال کليات: لومړی ټوك، ۴مخ.

۳- شارحه نښه په رسمي مکتبونو کې تر عنوان وروسته هم راتلای شي، لکه:

مخکې چې مو وويل:

ښاغلی:

ښاغلی پوهاند: ....

۴- د یو شي د اجزاوو د ښودلو لپاره راځي، لکه: لیکنښې دا دي: ټکی، کامه، ځنډنی او نور....

## ورې لیندۍ ( ) یا Small bracket

دې نښې ته دوې لیندکۍ، قوسین، هلالین، پرین تسیس هم وایي.

لیندۍ یا قوسین د هغو اضافي کلمو لپاره کارول کېږي، چې عبارت او کلام کې مقصد نه وي.

لکه: شاه شجاع ( د تیمور شاه زوی) د پلار په څېر علم پالونکی نه و.

د ځانګړو نومونو، د پاملرنې وړ شیانو او په منځ کې د رالوېدلو جملو د ښودلو لپاره لیکل کېږي.

همدارنګه په ژباړه کې د څرګندتیا لپاره په متن پورې نا اړونده برخه په قوسینو کې لیکل کېږي. په عمومي ډول د ورو لیندیو کارونې ځایونه په لاندې توګه په ګوته کولای شو:

الف: د ورو لیندیو یا ( قوسونو) تر منځ هغه توضیح او معترضه جمله او فقره راځي، چې ډېره مهمه نه وي او حذفول یې جملې ته کوم زیان نه پېښوي، لکه:

- میرویس نیکه ( روح دې یې ښاد وي ) یو ملي مشر ؤ.
- عبدالرحمن بابا ( خدای (ج) دې وبښي) یو صوفي شاعر ؤ.

پورته هر جمله کې د قوسونو تر منځ راغلې معترضه فقرې که له جملې څخه وایستل شي، جملې ته کوم زیان نه رسېږي.

ب: هغه رقمونه او د ابجد توري چې د وېش د ښودلو لپاره راځي د لیندیو تر منځ نیول کېږي. همـدا راز پر له پسې شمېرنې چې په عدد یا الفبې یا تورو شوې وې، هم د لیندیو تر منځ راځي. بېلګې یې په لاندې ډول دي:

د اسلام پنځه بناوې دا دي:

(کلمه، لمونځ، روژه، زکات او حج)

که د اجزا د کرښې له سر نه لیکل غوارو، د لیندۍ یوازې د پای نښه هم لیکلای شو، لکه: دا کتاب څلور څپرکي لري:

۱) املاء او لیکدود.

۲) انشاء او ډولونه یې.

۳) لیکونه او بېلګې یې.

۴) لیك نښې.

دې عددونو ته د لیندۍ د پای نښې پر ځای کرښۍ ( ـ) هم لیکلای شو، لکه له دې کتاب څخه زموږ هدفونه دا دي:

لومړی ـ زده کوونکو ته لیکدود ورښودل.

دویم ـ د انشاء د لیکلو چل ور زده کول.

درېیم ـ د شخصي او اداري لیکونو لیکني چوکاټونه ورښودل.

څلورم ـ د لیك نښو نښانو سمه او پر خپل ځای کارونه.

تاریخي مادې او نېټې هم دلیندیو تر منځ نیول کېږي، لکه: احمدشاه بابا (۱۱۳۵ــــ۱۱۸۶) یو عالم او ادیب پاچا و.

په سوداګرۍ او حسابي معاملاتو کې رقمونه په لیندیو کې راځي، لکه:

- د محمود د کور کريه (۵۰۰۰) افغانۍ او د نسيم د دوکان ټوله بيه (۴۰۰۰۰) افغانۍ ده.
- ليکونه سرليکونه کتاب د يو ټوك بيه (**۳۵**) افغانۍ ده.
ج: خاص نومونه، عددونه او د نورو ژبو د لغاتو معنا په وړو لينديو کې ليکل کېږي. لکه:
- زما دوست (حليم) چې راغی؛ نو ويې ويل: ستا ورور له ما (**۵۰**) جلده کتابونه وړي دي.
- د هــــر سياسي نظــام منطق (پوخوالی) د هغه د پاليسۍ (کړنلارې) ځخه څرګنديږي.
د: پوښتن نښه، چې د شك يا طنز په توګه کارېږي، بايد په لينديو کې راوړله شي، لکه:
- په آزاده نړۍ (؟) کې مطبوعات (!) د محرومې طبقې په ګټه (!) کار کوي.
- خالد جانه، ځومره زړه ور (!) يې.
ځينې ليکوالان د يوې موضوع ماخذ هم په وړو لينديو کې ليکي، لکه:
روسان د(۱۳۶۷هـ.ش) کال د دلوې په (۲۶) مه نېټه د شرمېدلې ماتې په نتيجه کې له افغانستان نه ووتل. (د ژبنو روغه جوړه، د ډاکتر حسن کاکړ ليکنه، ۲۰ مخ)
لينديۍ د تشريحي، توصيفي هدفونو لپاره هم راځي، لکه: لاندې بېلګه:
- استاد حبيبي (د هېواد لوی مورخ د مشروطيت پر غورځنګ ډېر مهم کتاب ليکلی دی.

دا خبره دې زموږ په یاد وي، چې په یوه جمله کې تر لیندیو مخکې کومه بله لیك نښه رانه شي، که چېرې د کامې یا کوم ټکي د ایښودلو اړتیا پېښه شي، بیا نو لاژمه ده، چې تر لیندیو وروسته راوړل شي.

**غبرګې لینډۍ (( ))**

د کارونې ځایونه یې:

۱- ټول مستقیم نقل قولونه په غبرګو لینډیو کې راوړل کېږي، لکه: د یفتلیانو توکم په اړه دوست شینواری لیکي: (( د هیونیتو یفتلیانو د توکم په باب موضوع پوره روښانه نه ده، د ځینو محقیقینو په عقیده یفتلیان له تورکي توکم څخه دي. ))

پخوا ځانګړي نومونه، سرلیکونه او علمي اصطلاحات په دغو لینډیو کې راوړل کېدل، خو اوس دغه کار کم رنګه شوی دی.

**ستوری (*)**

په لاندې ځایونو کې کارول کېږي:

۱- په متن کې د هغو کلمو تر څنګ لیکل کېږي، چې په لمن لیك یې شرحه کې راوړل کېږي، یا په بله وینا، که چېرته ( عددونه ) په متن کې د کومې بلې موخې لپاره کارول شوي وي، په دغه صورت کې بیا ستوری د هغې کلمې په څنګ کې راوړل کېږي، چې په لمن لیك یې شرحه او سپړنه اړینه وي.

۲- د دوو مسرو تر منځ د فاصلې د ټاکلو لپاره راوړل کېږي، لکه:

په ژړا مې هسې خور په خندا لاړ شي * لکه پاڼې د ګل ماتې کا باران شوخ

۳- که چېرې مونږ غواړو، د متلونو په څېر لنډې جملې یو په بل پسې لیکوو، نو بیا د جملو تر منځ د توپیر لپاره د هرې جملې په پیل کې د ستوري نښه راوړوو، لکه:

* کونږ بار تر منزله نه رسېږي.
* اوبه په ډانګ نه بېلېږي.

## ډش یا لنډ کش خط (–) (Dash)

د کارونې ځایونه یې:

۱- د هغو مرکبو خاصو نومونو تر منځ، چې دوه توکه ولري، لکه :

د کابل - جلال اباد لویه لار تر بیا رغاونې لاندې ده.

۲- د معترضه جملې په پیل او پای کې راوړل کېږي، که څه هم د معترضه جملې په پیل او پای کې نورې لیك نښې هم راتلای شي، لکه :

عبدالرحمن بابا- چې د پښتو ژبې خوږ ژبی شاعر دی- په (۱۰۴۲هـ) کال کې پیدا شوی دی.

۳- په کیسه ایزو نثري ژانرونو کې د دوو کسانو د مکالمو په پیل کې د نوم د نه راوړلو په صورت کې راوړل کېږي، لکه :

- مماڼې
- ها ، مورجانې!
- لوښې دې ووینځل؟

- وړه مې هم لامده کړل.
- مور دې له تا قربان شي. ښوونځي ته د تلو ناوخته دی.
- نه، مورجانې! زموږ حاضري په اته نیمې بجې شوې ده.
- ښه، راشه نو چای دې وڅښه!
- ښه ده، دا دی راغلم.

۴- د شمېرو تر منځ د (الی او تر) پر ځای راوړل کېږي، لکه : د ژمي رخصتي د دلوې له (۱-۱۵) نېټې پورې منظوره شوې ده.

له (۱۳۶۸-۱۳۷۳ل) پورې ما د لېسانس دورې زده کړې تر سره کړې دي.

۵- د شمېرو تر منځ د توپیر کولو لپار لکه:

- ۱ـ ۲ـ ۳ـ ۴ـ ۵ـ ۶ـ ۷ـ ۸

۶- د هغو شمېرو تر څنګ چې د لېست په بڼه یو تر بل لاندې لیکل شوي وي، لکه :

۱- لس منه وریجې
۲- پنځه منه غوښه
۳- یو ټیم غوړي
۴- لس منه لرګي
۵- دوه منه الوګان

۸- د هغې کلمې د لومړي توري د تکرار تر منځ، چې د ژبې بندېدو له کبله را منځته شوی وي، لکه :

ز- ز- زر- ت- تر- ز- زره- ر- ر- راشه!

آ- آ- ما- ما- ماده- یـ- یم

۹- د کلمو د څپو یا تورو بېلولو لپاره کارول کېږي، لکه: زه څنګه لیکوال شوم؟ جمله شپږ څپې لري.

زه- څن- ګه- لیك- وال- شوم؟

د (احمد) کلمه څلور توري لري: ا- ح- م- د

۱۰- د ترکیبي عبارتونو د برخو د پیوستون لپاره، لکه :

اجتماعي- سیاسي- ایډلوري/ عقیدوي- کلتوري ګډې خواوې

۱۱- د مخففاتو تر منځ یې هم کارولی شو، لکه :

افغانستان اسلامي جمهوریت (ا -ا -ج) او نور.

## درې ټکي (...)Ellipsis mark

درې ټکي په لیکنه کې د هغې برخې یا کلمې پر ځای راوړل کېږي، چې لیکوال یې راوړل نه غواړي، یعنې د حذف لپاره په لیکنه کې کارول کېږي، لکه:

۱- که چېرته موږ د بل چا د لیکنې وروستۍ برخه د خپلې لیکنې د تضمین په بڼه د مستقیم نقل قول په بڼه راوړوو، نو تر غبرګو لیندیو وروسته درې ټکي راوړوو او بیا مطلوب نقل قول لیکوو، بیا د جملې د پای ټکی او ورپسې غبرګې لیندۍ یې د تمامښت لپاره راوړوو: (( ... ــــــــــــــــ. ))

ښاغلی وجیه الله شپون په خپل اثر کې لیکي: (( ...په ځینو علمي معتبرو آثارو کې ادبي، لوړه او سټنډرډ ژبه ملي ژبه بلل شوې ده او دا هم وېل شوي دي، چې لوړه معیاري ژبه د ملي ژبې هغه فورم دی، چې په شفاهي او تحریري بڼه یې پرمختګ

کړی وي او د لیکلو او ویلو د ژبې په منځ کې یې کوم توپیر نه وي.))

کله د یو چا د نقل قول د پیل او پای برخه کاروي، نو د دواړو برخو تر منځ درې ټکي ایښودل کېږي، لکه: (( ـــــــ ... ـــــــــ.))

ډاکټر مالیار سادات د ښځو د بدل په اړه لیکي:

(( په بدل باندې د خور او لور ورکول د پښتنو په ټولنه کې د نجونو د حقوقو په اړه یوه ډېره لویه ستونزه ده... بدل ته په عربۍ کې شغار وایي، چې مانا یې خالي والی ورکوي او شغار ته شغار ځکه وایي، چې دا له مهر نه خالي وي.

کله د یو چا نقل قول لومړۍ برخه په کار وي او نوره لیکنه مو په کار نه وي، نو تر مطلوبو جملو را اخېستلو وروسته درې ټکي د حذف لپاره او یو بل ټکی د جملې د پای لپاره، چې ټول څلور ټکي کېږي راوړو. لکه: ((ـــــــــــــــــــ ... .))

سحر یوسفزی د ادبي کره کتنې په اړه وایي:

(( که په یوه ژبه کې تنقید نه وي، نو لیکونکی به تیارو کې تیندکونه خوري او له خپل ځان نه چاپېر یو ګز ځای ته دنیا وای... . ))

## ګرامر تعریف

د یوې ژبې د لغاتو د تغیر شکلونه، د هغوی ترکیب، د جملو جوړښت او څرنګوالی مطالعه او تشریح کوي. یاپه بل عبارت، ګرامر هغه اصول اوقواعد دي، چې د ژبې جوړښت تشریح کوي. هره ژبه ځانته ځانګړي قوانین او اصول لري، چې باید مراعت شي. او که چېرې مراعت نه شي؛ نو جملې او لیکنه د ګډوډۍ سره مخ کېږي او هغه مفهوم، چې غواړو وړاندې یې کړو، بې معنا پاتې کېږي.
د ګرامر له لوستو څخه په ښوونځیو او پوهنځیو کې موخه دا ده، چې ژبه سمه ولیکلای او ولوستلی شو او ځان له تېروتنو څخه وژغورو.

**املاء:** املاء عربي کلمه ده، چې په لغت کې ډکولو ته وايي او په اصطلاح کې خپلې خبرې او یا د بل خبرې په سمه توګه لیکلو ته املاء وايي. خو که څوك یوه لیکنه ګوري او بیا یې لیکي، دې ډول لیکلو ته املاء نه وايي؛ بلکې نقل بلل کېږي. یعنې، که موږ املاء لیکو یواځې به یې اورو او په لیکلي ډول به یې نه وینو.

**لیك:** د ژبې انځوریزه بڼه ده، یعنې لیك د هغو سمبولونو منظمه ټولګه (مجموعه) ده، چې انسانان پرې خپل نظریات په لیکلي ډول بیانوي.

**غږ**: د ژبې تر ټولو کوچنی غږیز توك دی، چې په آزاده توګه کومه مانا نه لري؛ مګر په مانیزو کلمو کې مانیز توپیر پیدا کوي. مثال: کور– ګور، تار– بار، پېر– څېر اونور. یعنې که چېرې موږ په کلمه کې یو غږ په بل غږ واړوو او یا د غږونو ځای ته تغیر ورکړو د کلمې معنا هم بدلون پیدا کوي.

**توری**: د غږ لیکل شوي بڼې ته توری وایي. **هغه څه چې** له خولې راوځي غږ دی؛ **خو** کله چې د هغه غږ نښه ولیکو، دې ته توری وایي. مثال: ا، ب، پ، ك، م، ن، ل، د... .

**الفباء**: د یوې ژبې د ځانله آوازونو او تورو ټولګې ته الفباء وایي. د هرې ژبې الفباء د توریو له یو شمېر شکلونو څخه جوړه ده، چې هر یو یې ټاکلی غږ یا غږونه ښیي. الفباء د زده کړې اسان صورت دی. اصلي غږونه چې د پښتو ژبې کلمې ورځنې جوړېږي، یا په بل عبارت د پښتو الفباء له دېرشو (۳۰) تورو څخه جوړه ده، چې د هغې له جملې څخه (۲۲) توري د پښتو او فارسی تر منځ ګډ او اته (۸) توري یې له فارسی او عربي څخه جلا او بېل دي، چې هغه دا دی: (ټ، ډ، ړ، ځ، څ، ږ، ښ، ڼ) د پښتو دا غږونه له هند او اروپایي ژبو سره مشترك دي. د پښتو په دغو دېرشو تورو کې (۲۶) توري چپ (بې آوازه ، بې غږه) توري دي او څلور نور کومکي (واول، غږیز) توري دي:
(ا، و، ه، ی).

**مستعار غږونه (آوازونه):** په پښتو کې یو شمېر مستعار غږونه هم، چې اصلاً عربي ژبې ته منسوب دي، کارول کېږي او هغه له (ث، ح، ذ، ص، ض، ط، ظ، ع، ف، ق) غږونو څخه عبارت دي، چې له دې سره په پښتو کې د کارېدونکو تورو شمېر (۴۰) ته رسېږي. کله چې دغو لسو تورو څخه کوم یو په یوه کلمه کې ولیدل شي، هغه به غالباً پښتو نه وي. نوموړي توري په پښتو ژبه کې د عربي ژبې د الفاظو د را ننوتو له امله کارېږي، نو له همدې له امله ورته مستعار غږونه وایي.

**کومکي غږونه:** کومکي غږونه په پښتو کې په دوه ډوله دي: یوه برخه یې حرکتونه او بله برخه یې توري دي چې په لاندې ډول ښودل کېږي:

الف: حرکتونه: موږ توري او کلمې د حرکاتو یعنې کومکي غږونو په وسیله تلفظ کوو. یو توری له بل سره له حرکت نه پرته نشي ترکیب کېدای. حرکتونه د کلمو په لوستنه کې زیاته مرسته کوي او د کلماتو د ترکیب او تلفظ له پاره د حرکتونو او د هغو د آوازونو پېژندنه لازمه ده، مګر دا چې په پښتو کې د دغو حرکتونو لپاره کومې نښې او علامې نشته، نو له همدې له امله د پښتو کلمو په لوستنه کې څه نا څه ستونزې شته.

د حرکتونو بیان په لاندې ډول دی:

۱- **زور:** یو توری (حرف) په خوځښت او حرکت راولي او آواز په پورته لوري بیایي، لکه: (پَل، غَل) کې د (پ او غ) حرکت. زور د الف لنډه بڼه ده.

**۲- زېر:** د زېر په واسطه یو توری خوځند ویل کېږي او غږ ښکته خوا ته بیایي لکه په " لاندې " کې د " د " حرکت.
**۳- پېښ:** یو توری ځرګند او د "واو" خوا ته مایل کوي او یا په بل عبارت د سپك "واو" غږ ورکوي، لکه د "ګ" حرکت په ګند (حزب) کې. مګر اوس دا پېښ په "واو" لیکل کېږي.
**۴- زورکی:** د پښتو یو ځانګړی حرکت دی، چې توری په حرکت راولي او آواز له فتحې څخه ښکته خواته مایل کوي، لکه په "شل" (بیست) او "تل" (همېشه) کې د "ش" او " ت " حرکتونه. که چېرې اول توری په فتحه ولوستل شي معنا یې بدلون مومي. زورکی یو مایل زور دی.

**ب: کومکي توري:** لکه چې د مخه وویل شول، یو لړ کومکي غږونه دي، چې موږ ورته کومکي توري وایو، دا ځکه چې دهغو په مرسته اصلي توري تلفظ کېږي.
په پښتو کې کومکي توري څلور دي: ( الف، و، هـ، ی ) مګر هغه وخت کومکي توري ګڼل کیږي، چې ساکن وي او د مخه ترې بل کومکي توری نه وي. دغو تورو ته په پښتو کې غږیز توري یا آواز لرونکي توري هم ویلای شو.
دا دی دلته کومکي توري په لاندې ډول ښودل کېږي:
- (الف) لومړنی کومکي توری دی. د کلمې په سر، منځ او اخر کې راځي لکه: کال، لاره، اکا.
- (و) واو په پښتو کې په څلور ډوله دی:
الف: نرم واو: چې پوست او نرم ویل کېږي او د مخه توری یې

زور لري لکه: پلو، لو، کنډو.
ب: څرګند واو: چې د مخه توری یې څرګند او دروند پېښ لري لکه: کچالو، چاکو، تالو.
ج: اوږد واو: چې اوږد او نرم ویل کېږي او د مخه توری یې اوږد پېښ لري لکه: پښتو، زانګو، پیشو، اور، کور.
د: کوچنی واو: چې د مخه توری یې سپك لنډ پېښ ولري، لکه: تاسو، وشو، پوښتنه.

**پښتو ( ی ګانې ) او سمه کارونه یې:**

( ی ) ګانې د پښتو ژبې غږونه دي. بېلابېل ډولونه لري. هره یوه یې ځانته ځانګړنې لري او په جلا جلا ځایونو کې استعمالېږي. د دې تورو زده کړه د هر چا لپاره لاژمه ده، په تېره هغو ته، چې د پښتو متنونو له لیکلو او لوستلو سره سروکار لري، اړینه او ضروري ده.
د پښتو ( ی) دا پېنځه شکلونه په حقیقت کې د څلورو بېلابېلو آوازونو ښکارندویي کوي، چې دوه یې ( ي، ې) خپلواك غږونه یا واولونه دي او نورې یې ( ی، ۍ، ئ ) د ژبپوهنې د یوې دودیزې نومؤنې یا اصطلاح له مخې غبرګغږونه یا دیفتنګونه دي.
د پښتو (ی) ګانو دا څلور آوازونه په حقیقت کې څلور مختلف آوازونه دي، چې د پېنځو نږدې همشکله ګرافیمونو په بڼه افاده کېږي، له همدې امله دا مختلف او بېلابېل آوازونه په دودیز ډول د یوه ګرافیم ( ی ګانو ) په نامه یادېږي.

د یادونې وړ ده، چې د پښتو (۷) واولونو له جملې څخه دوه یې همدا (ی ګانې) دي، چې د کارونې خورا زیات ځایونه او اړخونه لري. په پښتو ژبه کې (ی ګانې) د کارونې ځانګړي ځایونه لري، که چېرې په نثر او نظم کې هره یوه په خپل ځای وکارول شي؛ نو د متن په روانۍ، اسانۍ او معانیزې څرګندونې او خوږلنۍ کې به ډېره مرسته وکړي.

خو که چېرې دا (ی ګانې) پر خپل ځای او خپله بڼه ونه کارول شي؛ نو لوستونکی به د متن په لوستلو کې ټکنی کېږي او کله کله دې ته مجبورېږي، چې د جملې پای ته ځان ورسوي او بیا له سره د جملې روغه بڼه ولولي. دا د دې مانا ورکوي، چې د پښتو هر لوستونکی د پښتو د هر کتاب متن دوه ځله ولولي.

کله کله د (ی ګانو) د ناسمې کارېدنې له کبله یوه کلمه، عبارت، جمله، ترکیب، هماغه لیکوال د غوښتنې سره سمه مانا هم نشي رسولی او لوستونکی له ذهني ستړیا سره مخامخوي. هغه کسان خو لا ډېرو ستونزو سره مخامخوي، چې پښتو لیك لوست یې پوره او بشپړ نه وي.

د راډیو، تلویزیون او یا د غونډو ویاندویان (نطاقان) هم د (ی ګانو) د نه مراعات له کبله له سختو ستونزو سره مخامخیږي او کله کله دومره ستره تېروتنه کوي، چې د متن اصلي مانا ته چورلټ بدلون ورکوي. دغه ستونزه په (ی ګانو) کې د شکلي بدلون او د ټکو د تغییر په وجه تر یوه برېده له منځه وړل شوې ده، ډېر پښتانه لیکوال او چاپ چارې د دې

( ی ګانو) دکاریدنې پر ځای، ارزښت او بڼې باندې پوهیږي، ځینې یې په لیك کې مراعات ته ډېره پاملرنه کوي؛ خو ځینې یې بیا په مراعاتولو ځان نه ستړی کوي.

په هر حال (ی) ګانې که واولي دي او که دیفتانګي، د پښتو کلمو په جوړونه کې ډېر نقش لري او د پښتو کلمو ډېره درانه او غوښنه برخه جوړوي. که چېرې د هغو د ټاکل شویو بڼو په واسطه د هغو د آوازونو سمه افاده او لیکنې بڼه تر سره شي او یا یوه د بلې پر ځای وکارول شي؛ نو یقیني خبره ده چې د پښتو متن په افاده او لوستنه کې به ډېرې ستونزې رامنځته شي.

د دې لپاره، چې په راتلونکو چاپي کتابونو کې د د ې تورو ( بېلا بېلو ی ګانو ) مراعات وشي او یا هغو کسانو ته، چې تر اوسه لا د دې تورو په دقیق استعمال او کارېدنه کې ستونزې لري او یا پرې نه پوهېږي، د هغو د مالوماتو لپاره د پښتو د مروجو پېنځه واړه (ی ګانو) بڼې او د سمې کارونې ځایونه په ګوته کوم:

**۱- نرمه، بې ټکو، زورواله یا نرینه ( ی: =ay)**

د ې ( ی) ته نرمه، بې ټکو، زورواله یا نرینه ( ی ) وایي او د آواز پوهنې له معمول تعریف سره سم یو غبرګ یا دیوفتونګ ګڼل کېږي، چې له یوه خپلواك آوزا (a) او یو نیم خپلواك غږ (y) څخه رغېدلې ده.

دا دواړه آوازونه د یو آواز یا یوې څپې په څېر یو ځل له خولې څخه راوځي.

د دې ( ی ) د کارونې ځایونه په لاندې ډول دي:

الف- د یو ګړي ( مفردو ) نارینه نومونو په پای کې راځي، لکه: سړی =sαrαy، منګی =mαngαy، لرګی =lαrgαy

ب- په ځینو نسبتي صفتونو یا ستاینومونه کې هم راځي، لکه:

توریالی =turyαlαy، ننګیالی =nαngyvlαy، زمریالی =zmαryαlαy او نور.

ج- په هغو فعلونو کې هم راځي، چې د یوګړي ( مفرد) نارینه نوم لپاره ګردان شوي یا اوښتي وي، لکه: تللی، خوړلی، ژړلی، کړی، وړی، ځوریدلی، کړیدلی، سوځیدلی ... او نور.

بېلګې: احمد د پر ځوریدلی دی.

محمود ډېر کړیدلی دی.

لاس مې سوځیدلی دی.

د- په ځینو نسبتي نومونو کې د یو ګړي ( مفرد ) په بڼه هم کارېږي، لکه:

خوستی، کندهاری، کابلی، پېښوری او ....

هـ- د ځینو امکاني فعلونو په پای کې هم راځي، لکه:

زړه مې په ښو خبرو رغېدلای شي.

ځمکه د بزګر په هڅو زرغونېدلای شي.

و- هغه نومونه چې په (āy) پای ته رسیدلي وي، لکه:

ځای =zāy، چای =āyč

## ۲- څرګنده، لنډه یا معروفه ي = (i)

دې ( ي ) ته څرګنده یا لنډه ( ي ) هم وايي، چې د مخه توری يې لنډ زېر لري.

په پښتو کې دا ( ي) يو خپلواك غږ ( واول ) دی، چې په پښتو متن کې ډېر زيات کاريږي. د کارونې ځينې مهم ځايونه يې په دې ډول دي:

الف- د هغو مفردو مذکرو یا نرینه نومونو د جمعې لپاره راځي، چې په نرینه یا نرمه ( ی ) پای ته رسېدلي وي، لکه:

| ډېرګړی ( جمع ) | یوګړی ( مفرد ) |
| --- | --- |
| سړي | سړی |
| زمري | زمری |
| منګي | منګی |
| لرګي | لرګی او داسې نور. |

ب- د هغو مفردو نارینه نومونو د اوښتي پېر یا مغیره حالت لپاره راځي، چې په نرینه ( ی ) پای ته رسېدلي وي، لکه:

| اصلي حالت | مغيره ( دويم حالت ) |
| --- | --- |
| ( سړی ) کار کوي. | ( سړي ) کار وکړ. |
| ( بریالی ) درس لولي. | ( بریالي ) درس ولوست. |

ج- د نسبتي صفتونو یا نسبتي نومونو په پای کې هم راځي، لکه:

خوښ - خوښي
سوکاله - سوکالي
هوسا - هوسايي

رحیم – رحیمي

ابراهیم – ابراهیمي

دوست – دوستي

دښمن – دښمني او داسې نور....

د – په یو شمېر کسبي نومونو کې، چې د یوې پېشې یا کار ښکارندویي کوي، هم کارېږي، لکه:

موچي، دوبي، ربابي، ډولچې او نور....

ه– په یو شمېر فعلونو، په تېره بیاد حال زماني په فعلونو کې هم استعمالېږي، لکه:

( ځي ) احمد ځي.

(ر اځي) ملالۍ راځي.

( خوري ) برېښنا ډوډۍ خوري.

( خبني) رڼا اوبه څښي.

( وري ) لویان د کوچنیانو نـاز وړي.

( لولي ) زده کوونکي درس لولي.

( ناځي) ځوانان د ملي ورځو په نمائلو کې ناځي.

( پاځي ) له یوې پاځي سل نورې.

**۳- اوږده، مجهوله یا ښځینه (ې = e):**

الف- دا ښځینه ( ې ) د هغو مفردو مؤنثو نومونو د جمعې لپاره کارېږي، چې په څرګند ( ه) یا زور پای ته رسېدلي وي، لکه:

| مفرد | - | جمع |
|---|---|---|
| ډېوه | - | ډېوې |
| ښځه | - | ښځې |
| پاڼه | - | پاڼې |
| مڼه | - | مڼې |
| زرکه | - | زرکې او نور.... |

ب- د هغو مفردو مؤنثو نومونو د مغیره یا دویم حالت لپاره راځي، چې په همدې ګرده ( ه) یا زور پا ی ته رسېدلي وي، لکه:

| اصلي حالت | مغیره حالت |
|---|---|
| ( ډېوه ) رڼا کوي. | د ( ډېوې ) رڼا تته ده. |
| ( پاڼه) ورژیده | د توت د( پاڼې) رنګ مې خوښېږي. |
| ( پلوشه ) درس لولي. | ( پلوشې ) درس ولوست . |
| ( لمبه) سره او شنه ده. | د (لمبې) رنګ سور دی. |

ج- د هغو ښځینه صفتونو د جمع او مغیره حالت لپاره هم راځي چې په ګرده ( ه) یا زور پای ته رسیدلي وي، لکه:

| مفرد او اصلي حالت | مغیره او د جمع حالت |
|---|---|
| ( ښه ښځه ) | ( ښې ښځې ) |
| ( ښه ښځه ) ښه خوی لري. | ( د ښې ښځې ) به خوی ښه وي. |
| ( سره ډیوه) | ( سرې ډیوې ) |

د – په غايب ښځينه نومځرو ( ضميرونو) او مفردو حقيقي مؤنثو نومونو کې هم کارېږي. لکه:

( هغې ) وويل.

( دې ) وژړل.

( ناوې ) يې راوړه.

( ادې ) ډېره مهربانه ده.

( خوابنې ) د زوم طرفداري وکړه.

هـ– په هغو نسبتي صفتونو او فعلونو کې هم کارېږي، چې د ښځينه نومونو لپاره کارول شوي او يا ګردان شوي وي، لکه:

له ( بدې ورځې ) ژاړم.

( د ښې ورځې ) خاوند شې.

( نجونې ژړېدلې )

( خويندې خندېدلې )

( تورې نڅيدلې ) تو داسې نور.

د اوږدې يا مجهوله ( ې ) يوه بله ښه ځانګړنه په دې کې ده، چې د کلمو په منځ کې هم خپل هويت ساتلا شي او آن که څوك وغواړي په دقيق ډول يې استعمال کړي، د کلمې په سر کې هم خپل هويت خوندي کولای شي، خو د کلمې په سر کې دومره دود نه ده.

د کلمې په منځ کې لکه:

( تېر ) د پخوا تېر شوی –

او ( تير ) د دستك او لرګي په مانا

( پېر ) د مهال په مانا –
او ( پیر ) د لارښود یا مرشد په مانا

**۴- زورکیواله ( ی = yə)**: د ژبپوهنې د معمولو تعریفونو له مخې یو غبرګ غږ دی، چې له دوو آوازونو څخه رغېدلې ده، چې یو زورکی (ə ) دی او بل سیم واول (y ) دی، یو یې خپلواك او بل یې نیمواك دی.
په پښتو اوسنۍ الفبې کې د زورکي او زور تفاوت نه لیدل کېږي او دواړه د ( ه) په بڼه لیکي، خو د « باړه ګلۍ » په پرېکړه کې د زور او زورکي لپاره ( ه او ۀ ) نښې منل شوي او دا یو بڼه وړاندیز دی.
د زورکیوالې ( ی ) د استعمال ځایونه په دې ډول دي:
الف- په پښتو مفردو مؤنثو نومونو کې راځي، کېدای شي دا نومونه یا حقیقي مؤنث وي او یا نا حقیقي؛ خو په لفظي ډول پرې د مؤنث اطلاق کېږي، لکه:
ځولۍ، زمرۍ، نړۍ، ګلالۍ، ډوډۍ، څوکۍ، کړۍ، صندلۍ، خولۍ، کږکۍ، نجلۍ، څپلۍ، هوسۍ او نور....
ب- د ځینو نسبتي صفتونو د جمعې او مغیره حالت لپاره راځي، چې په څرګنده ( ي) پای ته رسیدلي وي، لکه:

| **اصلي حالت** | – | **مغیره حالت** |
|---|---|---|
| خوښي | – | خوښۍ |
| تربګني | – | تربګنۍ |
| دوستي | – | دوستۍ |

خوشالي - خوشالۍ

د بېلګې په ډول:

د احمد او محمود تر منځ ( دوستي ) ده. - د احمد او محمود د ( دوستۍ ) مزه نشته.

( سوکالي ) دې غواړم. - ستاسو د ( سوکالۍ ) په هیله.

هغه ډېره ( خوشالي ) وکړه. - هغه له ډېرې ( خوشالۍ ) پر ځان نه پوهېده.

**۵- همزه واله ( فعلي/ امریه ) (ئ= ay) :**

دا هم یو غبرګ غږ دی او له زورکیوالې ( ۍ) سره یې په سکښت، جوړښت او تلفظ کې هېڅ توپیر نه شته، یعنې دا دوه غږونه په حقیقت کې د یوې څېپې په څېر یو ځل له خولې څخه راوځي.

پښتو لیکپوهانو د زورکیوالې ( ۍ ) او همزه والې ( ئ) بېلتون ښه او ضرورت همدا ګڼلی دی، چې زورکیواله ( ۍ ) نومونو (مؤنثو نومونو ) او همزه واله (ئ) په فعلونو او د امر په صیغو کې راځي.

د همزه والې (ئ) د اوسني دودیز استعمال ځایونه په لاندې ډول دي:

الف- همزه واله یا فعلي ( ئ ) اکثره د امر او نهې فعلونو په پای کې راځي.

لکه: کېنئ، پاڅئ، وخورئ، لاړشئ، مه کېنئ، مه ځئ، مه خورئ او داسې نور.

ب- د ځینو سوالیه جملو په پای کې هم راځي، البته دلته هم فعلي حالت څرګندوي، لکه:

تاسې تولګي ته راځئ؟

تاسې لولئ؟

په علمي غونډه کې برخه اخلئ؟ او داسې نور....

د یادونې وړ ده، چې د همزه واله ( ئ ) ، زورکي واله ( ۍ) او زور واله یا نارینه (ی ) د کلمو په منځ کې خپل هویت ساتلای نشي او ځای یې د څرګندې ( ي ) شکل نیسي-، یوازې د کلمو په پای کې دا یاګانې د شکل له پلوه خپل هویت ساتلای شي. لکه:

نړۍ+ وال= نړیوال یا کلی + وال= کلیوال،

ګاډۍ+ وان= ګاډیوان ، لوی+ والی= لویوالی او داسې نور....

ځینو ته کېدای شي دا پوښتنه پیدا شي، چې همزه والې ( ئ ) ته اړتیا نه وه، یوازې زورکیواله (ۍ ) بس وه.

دلته باید وویل شي، چې د د ې یاګانو په مرسته د هغو فعلونو او نومونو توپیر کېدلی شي، چې تلفظ یې یو شی وي، خو مانا یې بېله وي. ځینې وختونه موږ له داسې وییونو او کلمو سره مخامخېږوو، چې د همدې دوه ډوله « ی ګانو » په واسطه یې توپیر کولای شو.

د کلمو په پای کې د (ی ګانو ) د کارونې د پورتنیو یادونو تر څنګ، د کلمو په منځ کې هم تر کومه چې امکان لري د ( ی ګانو ) کارونې ته پاملرنه په کار ده.

په زیاترو هغو کلمو کې چې په منځ یا په پای کې یې ( یا) راغلې وي، که د هغو دقیق او آره بڼه وکاروو؛ نو د کلمې له سم وینګ سره به مخ شو او د ډېرو معانیزو ستونزو مخنیوی به مو کړی وي.

د پښتو لوستونکو، ویونکو او لیکونکو ته مې د ( ی ګانو ) د زده کړې په برخه کې وړاندیز دا دی، چې: (( ی ګانو )) نومونو د زده کړې پر ځای د ( ی ګانو ) د تلفظ او د هغو د استعمال ځایونو ته زیاته توجه وکړي، نومونه ( اصطلاح ) کېدای شي د سړي له یاده ووځي، خو د ( ی ګانو ) دقیق تلفط او په حافظه د هغو د شکل ساتنه د ( ی ګانو ) له دقیقې کارونې سره مرسته کولای شي.

لوستونکي کولای شي لاندې شعار د « ی ګانو » د استعمال د یوه لنډ فورمول په توګه په پام کې ونیسي. هره کلمه کې چې ( ی ګانې ) کارول شوې وي، د همدې فورمول له مخې یې د تلفظ په پام کې نیولو سره وکاروي.

فورمول دا دی:

(( تل دې وي سوله په نړۍ کې؛ سره یو شئ، دا مو شعار دی. ))

د لنډیز په توګه لاندې جدول وګورئ:

| ګڼه | نوم | لیکنۍ بڼه | بېلګې |
|---|---|---|---|
| ۱ | نرمه یا نرینه ( یا ) | ی | سړی، منګی، لرګی، ژړګی |
| ۲ | اوږده یا ښځینه ( یا ) | ې | ادې، مستې، ناوې، منې |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳ | څرګنده یا معروفه (یا ) | ي | خوښي، سړي، ښادي، دوبي |
| ۴ | زورکیواله یا لکۍ لرونکې (یا ) | ۍ | نړۍ، ډوډۍ، نجلۍ، هګۍ |
| ۵ | همزه واله یا امریه ( یا ) | ئ | وخورئ، ولیکئ، ځئ، لاړشئ |

**مترادفې کلمې**: هغه کلمې، چې په شکل او بڼه کې سره توپیر ولري او مانا کې سره ورته وي، مترادفې کلمې بلل کیږي. لکه:
ښکلی – ښایسته مینه – محبت لوی – غټ

**متضادې کلمې**: هغه کلمې دي، چې د مانا له پلوه یوه د بلې ضد وي.
لکه: ( ژړا – خندا ) ( اور – اوبه ) ( ځمکه – آسمان )

**متشابې کلمې**: هغه دي، چې بڼه او تلفظ یې یو ډول وي؛ خو په مانا کې سره توپیر ولري.
لکه: حلیم دروند پېټی جګ کړ. دروند انسان د هر چا خوښېږي.

**څپه (هیجا یا سیلاب)**

هغه آواز، چې د خولې په یو وار خورولو ادا شي، څپه یا سیلاب یا هېجا بلل کېږي. یا په بل عبارت: څپه هغه کوچنی واحد دی، چې د خولې په یو وار خلاصېدو سره د خولې څخه ووځي.

څپه پر دوه ډوله ده:

**الف: بنده (تړلې) څپه:** چې په چوپ یا کانسونېنټ یعنې په اصلي تورو پای ته رسېږي.

**ب: وازه (خلاصه) څپه:** چې په واول یعنې کومکي تورو پای ته ورسېږي.

**د کلام توکي:** هغه کلمې، چې کلام جوړوي د کلام توکي نومېږي، چې د کلمې ډولونه هم ورته وايي. د هغې څېړنې او مطالعې له مخې چې په پښتو کلمو کې شوې ده، د کلمې ډولونه يا د کلام توکي يې په لاندې ډول ښودلې دي، چې وروسته به هر يو په لنډ ډول در وپېژندل شي:

۱- نوم **۲**- نومځرى (ضمير) **۳**- صف **۴**- فعل **۵**- قيدونه **۶**- ادات

کلمې د مانا له پلوه په دوو لويو برخو ويشل شوي دي.

۱- خپلواکې کلمې ۲- نا خپلواکې کلمې

**الف: خپلواکې کلمې**: هغه کلمې دي، چې په خپلواکه توګه مانا ولري، لکه: احمد، زه، ښه، لايق او نور...

يادونه: په خپلواکو کلمو کې نومونه، قيدونه، او فعلونه شامل دي.

**ب: نا خپلواکې کلمې**: هغه کلمې دي، چې په خپلواکه توګه مانا نه لري، خو چې له خپلواکو کلمو سره يو ځای شي د جملې مانا پشپړوي او بدلوي. لکه: و، به، له، سره او...

په نا خپلواکو کلمو کې سرينې، پسينې، عطف توری، ربط توری، تاړي او نور راځي.

خپلواکې کلمې په دوو برخو وېشـــل شوي دي: ۱- اسمي ۲- فعلي

**الف: اسمي برخه:** په دې برخه کې، نومونه، صفتونه، ضميرونه

او شمېر نومونه (عددونه) شامل دي.

**۱- نوم ( اسم ): هغه کلمه ده**، چې پرته د زماني د ښوولو یو شخص، یو څیز یا یو شی ونوموي. **یا هغه خپلواکه مانا** لرونکې کلمه ده، چې د ټولو شیانو ( موجوداتو ) او اشخاصو لپاره راشي، لکه: لمر، ورور، پوهه، فکر او...

نوم ډېر ډولونه لري، چې د مانا له مخې په پېنځه ډوله دی.

۱- خاص نوم ۲- عام نوم **۳**- جنس نوم **۴**- ذات نوم **۵**- مانا نوم

**خاص نوم**: هغه کلمه ده، چې یو ځانګړی شخص، ځای یا څیز ونوموي. لکه: ډاکټر نجیب الله، احمد شاه بابا، خوست، کابل، افغانستان.

خاص نوم په پښتو کې د اشخاصو، ښارونو، غرونو، سیندونو، هېوادونو او نورو لپاره هم استعمالېږي؛ خو د اشخاصو خاص نوم د استعمال له مخې څو نور ډولونه هم لري، چې په لاندې توګه ښودل کېږي:

**الف: محض نوم**: هغه نوم دی، چې د زېږېدنې پر وخت د یو چا لپاره وضع شوی وي. لکه: حمید، غرغښت او نور.

**ب: لقب**: هغه نوم دی، چې د یو صفت او خصوصیت له مخې د درناوي په توګه چا ته ورکړ شوی وي او پر هغې مشهور شوی وي. لکه: لمرنشان، لالی، منې ګل او نور.

**ج: عرف نوم**: لنډ نوم دی، چې د مینې او حقارت له مخې عرفاً کارول کېږي. لکه: جانو، ګلابه، زړګیه او نور.

**د: تخلص**: لنډ نوم دی، چې خلك يې د ځان له پاره ټاكي، لكه: الفت، رښتين، رښتيا، خادم، **جلبل** مينه يار او نور.

**عام نوم**: عام نوم هغه دی، چې ځانګړی يا خاص نه وي، بلكې نور ډولونه ولري، يا چې د همجنسو شيانو لپاره راوړل شي، لكه: سړی، هېواد، كتاب، ښار او...

**جنس نوم**: هغه دی، چې په يوه نه شمېرېدونكي شي پورې اړه ولري، لږ او ډېرو ته يو شان وكارول شي. يا هغه نوم چې نه شمېرل كېږي، مفرد او جمع يې يو قسم وي، د جنس نوم بلل كيږي، لكه: زر، اوبه، مالوچ، تېل او نور...

**ذات نوم**: هغه كلمه ده، چې د يو حس كيدونكي شي لپاره راشي. يا داسې يو نوم نوموي، چې زمونږ په حواسو حس كيدای شي او بهرانی وجود ولري.

لكه: لښته، قلم، تيږه او...

**معنا نوم**: هغه نوم دی، چې په يو غير محسوس شي پورې اړه لري او مادي وجود نلري، لكه: پوهه، وېره، **عقل**، مينه او ...

**جمع نوم**: هغه دی، چې يوه ډله او جمعيت نوموي، لكه: ټولنه، ټولګی، رمه او...

**صوت نوم**: هغه دی، چې د طبيعي او غير طبيعي غږونو لپاره راشي. يا په لنډ ډول، د طبيعي يا مصنوعي آوازونو آنګازه نوموي، لكه: درب، درزهار، ترپهار، ترنګ و ترونګ او...

نوم د شمېر له مخې په دوه دوله دی: ۱- مفرد نوم ۲- جمع نوم
**مفرد نوم:** هغه نوم دی، چې د یوې ډلې په یو شخص یا څیز دلالت وکړي، لکه: باغ، شاعر، ونه او نور.
**جمع نوم:** هغه دی، چې د یوې ډلې له یو څخه زیات اشخاص یا شیان ونوموي، لکه: باغونه، شاعران، ونې.
یادونه: په پښتو کې د مفرد نوم جمع کول ځانته قاعدې لري، نارینه نوم ځانته او ښځینه نوم ځانته د خپلو قواعدو له مخې جمع کیږي.

**نوم د جوړښت له مخې پر دوه ډوله دی:**
۱- مرکب نوم ۲- ساده نوم
**مرکب نوم:** چې له دوو یا زیاتو کلمو څخه جوړ شوی وي، لکه: کندهار، جلال اباد، شېرشاه او نور.
**ساده نوم:** چې یوه مفرده کلمه وي او نور توکي نه لري، لکه: کټ، اور، لاس، زړه او نور...

**د کیفیت له مخې د نوم ډولونه:**
په پښتو کې د شیانو د تمیز، تشخیص او څرنګوالي له مخې نوم پر دوه ډوله دی:
۱- نارینه ۲- ښځینه
**الف: نارینه:** په ساکښنو کې هغه دی، چې نوم یا صفت نر شی یا څیز وي، لکه: سړی، غمجن او نور. او په غیر ساکښنو کې هغه دي، چې ښځینه نښه ونلري، لکه: اور، لرګی او نور.

**ب: ښځینه:** په ساکښو کې هغه دی، چې نوم یا صفت ښځینه وي، لکه: ښځه، غمجنه او... او ښځینه په غیر ساکښو کې هغه دي، چې د تانیث نښه ولري، لکه: رڼا، خولۍ او نور.

**ضمیر ( نومځری )**

ضمیرونه هم د ګرامر یوه برخه ده، چې په ژبه کې ښکلا او لنډون رامنځته کوي او د نومونو د تکرار مخه نیسي. نو ضمیر هغه کلمه ده، چې د نوم پر ځای کارېږي او د نوم د تکرار مخه نیسي، لکه: زه، ته، موږ، تاسې، دی، دا، دوی، **هغه**، دغه، هغوی.

**د ضمیرونو ډولونه:**

۱- ځانګړي (شخصي ) ضمیرونه ۲- ملکي یا اضافي ضمیرونه
۳- اشاري ضمیرونه ۴- استفهامي (پوښتنیز) ضمیرونه
۵- مبهم ( ناڅرګند ) ۶- پلوي ضمیرونه ۷- اشتراکي ضمیرونه

**۱- ځانګړي (شخصي ) ضمیرنه:** د کسانو یا اشخاصو پر ځای کارېږي او یو له دریو اشخاصو څخه ښیي. یا هغه دی، چې د یوه شخص یا وګړي له پاره راشي. اشخاص په درې دوله دي:

۱- متکلم: هغه څوك دی، چې خبرې کوي. لکه: زه، ما، موږ

۲- مخاطب: هغه چا ته ویل کېږي، چې خطاب ورته کېږي او خبرې ورسره کېږي. لکه: ته، تا، تاسې

۳- غايب: هغه څوك دی، چې د متكلم او مخاطب په منځ کې د هغه په هكله خبرې کيږي. لكه: هغه، هغوی، هغې
متكلم ته لومړی شخص، مخاطب ته دوه يم شخص او غايب ته دريیم شخص هم وايي.
شخصي يا ځانګړي ضميرونه په دوه ډوله دي: ۱- غښتلي ضميرونه ۲- كمزوري ضميرونه
الف: غښتلي يا منفصل ضميرونه: هغه دي، چې په يواځې توګه کارېږي، له بلې كلمې سره پيوست نه راځي او په خپلواكه توګه معنا وركوي.

| اشخاص | مفرد | | | جمع |
|---|---|---|---|---|
| | اصلي حالت | | اوښتی حالت | اصلي حالت |
| ۱ | زه | | ما | موږ |
| ۲ | تـه | | تا | تاسې (تاسو) |
| ۳ | نارينه | دی<br>هغه | ده<br>هغه | دوی<br>هغوی |
| | ښځينه | دا<br>هغه | دې<br>هغې | دوی<br>هغوی |

ب: كمزوري (متصل) ضميرونه: دا ضميرونه په خپلواكه ډول نه کارېږي، له نورو نومونو سره چې وکارېږي، خپله معنا څرګندوي.

| شخص | مفرد | جمع |
|---|---|---|
| ۱ | مې | مو |
| ۲ | دې | مو |
| ۳ | يې | يې |

لکه: کتاب مې راکړه، کتاب دې واخله، کتاب يې واخېست، کتابونه مو واخېستل، کتابونه يې واخېستل، کتابونه مو واخلئ.

**۲- ملکي يا اضافي ضميرنه:** هغه ضميرنه دي، چې د يو شي ملکيت ونښيي. يا يو څيز په څه او يا چا پورې اړوند بولي. يا په بله وينا يو شی د څه او چا ګڼي. (د، ز، س) د اضافت توري دي او که د هر ضمير سره راشي اضافي ضمير بلل کېږي.

| اشخاص | مفرد | | جمع |
|---|---|---|---|
| ۱ | زما | | زموږ |
| ۲ | ستا | | ستاسې |
| ۳ | نارينه | د ده | د دوی |
| | ښځينه | د دې | د دوی |

لکه: زما کتاب راکړه. زموږ کتابونه يوسه. ستا کتاب راکړه. ستاسې کتابونه واخلئ. د ده کتاب څه شو؟ د دې کتاب چېرته دی؟ د دوی کتابونه څه شول؟

**۳- اشاري ضميرونه:** هغه ضميرونه دي، چې اشخاصو او ځيزونو ته اشاره کوي او د هغوی پر ځای کارېږي.

| مفــرد | | | | جمــع | |
|---|---|---|---|---|---|
| ګڼه | واټن (فاصله) | اصلي حالت | اوښتی حالت | اصلي حالت | اوښتی حالت |
| ۱ | لنډ | دغه | دغه | دغه | دغو |
| | | دغه | دغې | دغه | دغو |
| ۲ | ليــرې | هغه | هغه | هغه | هغو |
| | | هغه | هغې | هغه | هغو |
| ۳ | لاليـــرې | هوغه | هوغه | هوغه | هوغو |
| | | هوغه | هوغې | هوغه | هوغو |

يادونه: له اشاري ضميرونو سره که چېرې مرجع نه وي ذکر شوی نو اشاري ضميرونه بلل کيږي. لکه په پورته مثالونو کې، او که چېرې مرجع ور سره راغلی وي؛ نو بيا ورته اشاري صفت ويل کيږي لکه:

هغې کالي ومېنځل، دغو سړو لار جوړه کړه، دغه هلك يو پوه هلك دی.

**۴- استفهامي ضميرونه:** هغو ضميرونه ته ويل کيږي، چې د اشخاصو او ځيز نومونو پر ځای د پوښتنې په وخت کې کارول کيږي.

د شخص، وخت، ځای ځرنګوالي او څومره والي له مخې لاندې ډولونه لري:

څوك: د شخص لپاره کاريږي: لکه: څوك راغی ؟

چا: د څوك اوښتی شکل دی او د شخص لپاره کاریږي، لکه: چا وژاړل ؟

کوم (کومه): د شخص او شیانو لپاره کاریږي، لکه: کومه ښځه ځي؟ کوم سړی ځـي؟

کله: د وخت پوښتنه کوي او نه ګردانیږي، لکه: کله راغی؟ کله راغله؟، کله به راشي؟، کله لاړ؟، کله لاړه؟

څنګه: د یو شخص، شي او یا عمل څرنګوالی پوښتي، لکه: څنګه دې ولیکه ؟ څنګه دې رسم کړ؟ څنګه دې میدان پاك کړ؟

څو: د اشخاصو او شیانو شمېر پوښتي، ځکه نو د جمع په شکل کاریږي، لکه: څو زده کوونکي راغلي وو؟ څو قلمونه دې وپېرل؟ څو کسانو ډوډۍ خوړلې ده؟

څومره: د اشخاصو او شیانو شمېر او د څرنګوالي او څومره والي درجه ښيي، لکه: څومره زده کوونکي دې ولیدل؟ څومره کبان دې ونیول؟ څومره ښکلی دی؟ څومره تود دی ؟

ولې: د یوه عمل او پېښې لامل پوښتي، لکه: ولې راغلې ؟ ولې درس نه لولې؟ ولې جومات ته نه ځې؟

**۵- پلوي ضمیرونه:** د اشخاصو له پلوه د یوه عمل پلو یا لوری ښيي او تل تر فعل د مخه راځي. دا ضمیرونه درې بڼې لري:

(را، در، ور)

را: د متکلم (لومړي شخص) لوری ښيي، لکه: راکړه، راوړه، را واخله او نور.

در: د مخاطب (دوه یم شخص) لوری ښیي، لکه: در واخله، در پورې کړه، درځه او نور.
ور: د غایب ( دریيم شخص) لوری ښیي، لکه: ورکړه، ور وړه، ور پورې کړه او نور.

**۶- ناڅرګند (مبهم) ضمیرونه:** دا ضمیرونه د یو ناڅرګند شخص لپاره کارېږي او په دې ډول دي:
هر: د جنس او حالت له مخې ګردانېږي، زیاتره د مفرد لپاره راځي، لکه: هر ځوان، هره پېغله، هر سړی، هره ښځه، هر کتاب، هره کتابچه اونور.
په اوښتي حالت کې د جمع لپاره راځي، لکه: په هرو څو ځوانانو کې، په هرو څو پېغلو کې.
**بل**: یواځې د شمېرېدونکي مفردنامه پر ځای کارېږي او د جنس او حالت له پلوه ګرادنېږي، لکه: **بل** څوک، **بل** ځوان، **بله** پېغله، **بل** سړی، **بله** ښځه او نور.
نور: د جنس نوم او جمع نوم راښیي او د جنس او حالت له پلوه ګرادنېږي، لکه: نور هلکان، نورې نجونې، نور جوار، نوره بوره.
ټول: دا ضمیر هم جنس او جمع نوم راښیي او د جنس او حالت له پلوه ګرادنېږي، لکه: ټوله کورنۍ، ټول غړي، ټول ښارونه، ټولې دښتې، ټول سړي، ټولې ښځې.

**۷- اشتراکي ضمیر (خپل)**: دا ضمیر د لومړي، دوه یم او درېیم شخص لپاره او هم د مفرد او جمع حالت لپاره یو ډول کارېږي، ځکه یې اشتراکي ضمیر بولي. دا ضمیر هم د جنس او حالت له مخې ګردانېږي، لکه: احمد **خپله** کورنۍ دنده تر سره کړې ده. حمیدي **خپل** کورنی کار کړی دی. بناپېرۍ **خپل** ورور ته درس وایي.

**ستاینوم (صفت):** هغه کلمه، چې د نـــــوم حالت او څرنګوالی وښيي. صفت تل د خپل موصوف سره یو ځای راځي. لکه: ښه سړی، بد هلك، شین آسمان او...

ستاینوم د معنا له مخې دا لاندې ډولونه لري:

۱- اصلي صفتونه ۲- نسبتي صفتونه ۳- فعلي صفتونه ۴- ابهامي او استفهامي صفتونه ۵- اشاري صفتونه ۶- عددي صفتونه

لومړنیو درې ډولونو ته ذاتي او اصلي صفتونه او ورستیو دریو ته تأکیدي صفتونه وايي.

**۱- اصلي صفتونه:** هغو صفتونو ته ویل کېږي، چې په یو نوم پورې اړه لرونکي حالات ښه وي او که بد، څرګندوي. یا د نوم ذاتي ښه والی او بدوالی وښيي. لکه: مشر سړی ، ښه سړی، چې په دې کې (مشر او ښه) اصلي صفت دی، ځکه چې د یو نوم اصلي او ذاتي صفت یې بیان کړی دی.

**اصلي صفتونه په دوه ډوله دي:**

۱- ساده اصلي صفت ۲- مرکب اصلي صفت

**الف: ساده اصلي صفت:** هغه دی، چې یو توکی وي، یعنې مفرده کلمه وي، لکه: ( ښه او بد).

یو شمېر یې په لاندې ډول دي:

ښه، بد ، سپین، خړ، سور، غټ، لوی، نری، اوم، پوخ، خپل، پردی، لوڅ، مړ، ژوندی، روغ، جوړ، وږی، تږی، موړ، سوړ، ووړ، زوړ، ټیټ، لوړ، اوچت، ګرنډی، پلن، لنډ ، اوږد ، ارت،

تنګ، ژوبل، ټپي، پوه، او نور.

**ب: مرکب اصلي صفت:** هغه دی، چــې د دوو یا زیاتو توکو څخه جوړ او ترکیب شوی وي، لکه: توریالی،ناپوهه، پوهیالی، ختګر او...

**۲- نسبتي صفتونه:** هغه دي، چې د یو شخص یا یو څیز نسبت یو ځای یا یو څیز ته کوي. نسبتي صفتونه ټول مرکب دي، چــې ځینې مشهورې نښې یې دا دي: (وال، نرمه (ی)، څرګنده (ي) خېل، زی، ین، نـی، یز او نور ) لکه: خوست وال، کابلی، طلایـي، اسمعیل خېل، اصیلزی، وریښمین، چره ییز او نور.

**۳- فعلي صفتونه:** فعلي صفتونه هغه دي، چــې په هغو کې د یو کار کولو معنا پرته وي، که هغه فاعلي وي، لکه: تلونکی او تللی، او که مفعولي وي، لکه: وهلی او ساتلی او نور.

فعلي صفتونه په دوه ډوله دي :

لومړی هغه چې په خپله له مصدر څخه د نښو په زیاتولو سره جوړېږي. جوړښت یې عموماً له ټولو مصدرونو څخه له قیاس سره سم وي. او دوه یم هغه چــې، له فعلي ریښې څخه د اداتو په یو ځای کېدلو سره جوړ شوي وي، خو جوړښت یې عموماً له ټولو مصدرونو څخه نه کېږي، بلکې په څو مثالونو پورې محدود وي، لکه: ساتندوی او ګټهندوی چــې د ( سات او ګټه ) له فعلي ریښو او ( ندوی) ادات څخه مرکب شوي دي.

**۴- ابهامي او نا څرګند صفتونه:** هغه صفتونه دي، چې د یو شي معلومه اندازه او شمېرنه نه ښي، بلکې په نا معلوم ډول د یو شي ښودنه کوي، لکه:

لږ: لږ سړي نه دي راغلي.
څومره: څومره غنم چې لرې، رایې کړه.
ټول: ټول هلکان حاضر دي.
نورڅه: نور څه شی په کار دي.
درست: درست زده کوونکي ولاړ دي.
هر څه: هرڅه دې چې به کار وي ماته وایه .
ځینې: ځینې هلکان نشته .
بل: بل سړی هم درسره بوځه.
ګرد: ګرد زده کوونکي لاړل.
بل یو: بل یو هلك ته هم غــږ کړه.
نور: نور څوك نه ښکاري.
یو څو: یو څو تنه سړي راغلي دي.
**۵- استفهامي صفتونه:** هغو صفتونه وايي، چې د پوښتنې په وخت کې استعمالیږي او نومونو ته اختصاص او ځانګړنه وربښي.
استفهامي صفتونه او مثالونه یې په لاندې ډول دي:
څومره= څونه: څومره غنم دې په کار دي ؟
څو: څو کتابونه اخلې؟
څو وم: په څووم ټولګي کې داخل یې؟
کوم= کم: کوم هلك پوه دی؟
څوومه: څوومه چوکۍ ستا ده؟
کوم یو: کوم یو ښه دی؟
**۶- اشاري صفتونه:** که چیرې د اشارو په وسیله د یو بل نوم اختصاص څرګند شي او د هغه ځانګړنه افاده کړي، اشاري صفت

ورته ويل کېږي او يا په لنډ ډول هغه صفتونه دي، چې د هغو پواسطه يو نوم يعنې موصوف ته اشاره وشي.
د اشارو کلمې يو شی له نا مالوم والي نه وباسي او مالوم تيا وربخښي، لکه: دا پياله ماته ده. هغه قلم تور دی.
دغه نجلۍ ښکلې ده. دا زما قلم دی. هغه نجلۍ ډوډۍ پخوي.
**مجرد صفتونه:** هغه دي، چې يواځې يو حالت، يو صفت او کيفيت څرګندوي، يانې يواځې په يو صفت او کيفيت دلالت کوي او خارجي وجود نه لري، يا په لنډ ډول چې يوازې يو مجرد وصفي مفهوم وي او خارجي وجود ونه لري، لکه: لېونتوب، لوړتيا، هوښيارتيا اونور.
مجرد صفتونه په دوه ډوله دي: ۱- ساده ۲- مرکب
الف: ساده: هغه دي، چې يو توکی لري، يانې مفرده کلمه وي، لکه: لوړه، تنده، ډاډ، بيړه، تلوار، **عقل**، فکر او نور.
ب: مرکب: هغه دي، چې څو توکي ولري، له دوو يا زياتو توکو نه جوړ شوي وي، لکه: سړيتوب، نا جوړتيا او نور.
**يادونه:** موصوف هغې کلمې ته ويل کېږي، چې صفت د هغه لپاره راغلی وي، لکه:
توري څپلۍ. چې توري يې صفت او څپلۍ يې موصوف دی.
**۶- عددي صفتونه:** عددي صفتونه هغه دي، چې د يو نوم شمېر، رتبه يا درجه څرګنده کړي. په پښتو کې د اعدادو د ټولو ډولونو په واسطه د يو نوم اندازه يا رتبه بيان او څرګند يږي.
شمېر: يو سړی، دوه سړي، **څلور** سړي، درې تنه، څلور آسونه

رتبه: پنځم سړی، اتم هلك، څلورمه ډله، درېیمه میاشت

## د عدد بیان

عدد هغه کلمه ده، چې د څیزونو شمېره بیانوي. هر څه چې د عدد په وسیله شمېرل کېږي، معدود ورته وایي، لکه:
څلور کتابونه، چې څلور یې عدد او کتابونه یې معدود دی.

**د عدد ډولونه:**

**۱-اصلي عددونه:** هغه عددونه دي، چې یوازې شمېر او کمیت وښیي. لکه: دوه، درې، شل او نور.

**۲-وصفي یا رتبي عدوونه:** هغه عددونه چې د معدود درجه او رتبه څرګنده کړي، لکه: لسم نمبر، درېیم کس، شلم پوړ، درېیمه درجه او نور.....

**۳- کسري عددونه:** هغه دي، چې د معدود کسر او ماتوالی وښیي، لکه: یونیم، دوه نیم، څلورمه برخه او...

## فعل

**فعل** د جملې ډېره مهمه برخه ده، چې له هغې پرته جمله نه جوړیږي، دلته يې درپېژنو:

**فعل** هغه کلمه ده، چې د یوه کار کول او یا کېدل او یا یو حالت او یو اغېز په یوه زمانه کې څرګند کړي، لکه ( وايي، وبه وايي، وویل) چې لومړی کلمه په حال دوه یمه په راتلونکې دریېمه په تېره زمانه کې د ویلو کار او چار ښیي.

په پښتو کې فعلونه زیات ډولونه لري او له څو پلوه په بېلابېلو ډولونو وېشل کېږي، چې ځینې يې دلته در پېژنو.

د معنا او مفهوم له مخې د **فعل** ډولونه:

**فعل** د مانا او مفهوم له مخې په دوو سترو ډلونو وېشل شوی.

۱- لازمي فعل ۲-متعدي فعل

**لازمي فعل**: هغه دی، چې یوازې په فاعل پای ته رسېږي او مفعول نه لري.

لکه: کښېناست، کښېني، کښې به ني.

**متعدي فعل**: هغه دی، چې په جمله کې پر فاعل سربېره مفعول هم لري. یانې یواځې په فاعل پای ته نه رسېږي. لکه: حلیم خط ولیکه. هارون زه ولیدلم. کبیر موږ ولیدلو.

( په پښتو کې په فعلي جمله کې لومړی فاعل بیا مفعول او بیا وروسته فعل راځي، یانې فاعل د جملې په سر کې راځي.)

**د زماني له پلوه د فعل ډولونه:**

هر فعل او کار چې ثرګندیږی، په یو وخت او زمانه پورې اړه لري، نو فعل د زماني له مخې په درې ډوله دی:

۱- حال فعل ۲- ماضي فعل ۳- مستقبل فعل

**الف: حال (جاري) فعل**: هغه فعل دی، چې د یوه کار کول یا یو حالت ترسره کېدل په اوسنۍ یا جاري زمانه کې وښیي، لکه: توریالی کار کوي، ارغوان خط لیکي او نور.

**د حال فعل ډولونه**

۱- مطلق حال: هغه دی، چې په جاري زمانه کې د یو کار سرته رسېدل په عادي او مطلق ډول بیان او کار دوام ونه لري، لکه: د شپې لولم. ښوونځي ته ځم.

۲- استمراري حال: د یو کار سرته راسېدل په اوس مهال کې د دوام په حال کې بیانوي، لکه: باران وریږي. لیك لیکم ( یعنې د لیکلو په حال کې یم )

۳- احتمالي حال: په جاري وخت کې د یو کار پېښېدل د تمنا، شرط او شك په ډول بیانوي، لکه: ښایي لاړ شم. کاشکې راشي!

**ب: مستقبل (راتلونکی) فعل**: هغه فعل دی، چې په راتلونکې زمانه کې د یو کار په کولو یا کېدلو دلالت وکړي او د یو فعل موجودیت په هغه زمانه کې چې له حال زماني وروسته وي، ثرګند کړي، لکه: ارغوان به خط ولیکي، کبیر به سبا ته راشي.

**مستقبل فعل ډولونه:**

۱- استمراري **مستقبل**: چې په راتلونکې زمانه کې د یو کار دوام او جریان وښیي. ځو به، پخلا کوو به، پخلا کېږي به، او نور.

۲- مطلق مسقبل: هغه **فعل** دی، چې په راتلونکې زمانه کې د یو کار کول له امکان او استمرار څخه پرته څرګندوي. مطلق راتلونکي **فعل** ته راتلونکی شرطي **فعل** هم وایي، لکه: وبه ګورم، وبه نه ګورم، پخلا به کړم، پخلا به نه کړم او نور.

۳- احتمالي **مستقبل**: هغه دی، چې په راتلونکې زمانه کې د یو کار امکان او قدرت بیانوي، مثلاً: وبه یې لیدلی شي، وبه یې لیکلای شي.

ج: ماضي **فعل**: هغه **فعل** دی، چې د یوه کار کول یا کېدل په تېره زمانه کې وښیي.

لکه: ما ډوډۍ وخوړه. دی ورغلی و. بازار ته روان وم، چې دی راغی.

د تېر مهال فعلونه دا لاندې ډولونه لري:

۱- مطلقه ماضي: چې یو کار مطلقاً په تېره زمانه کې راوښیي.

لکه: تا ولید. ما مڼه وخوړه. دوی **ولمبل**.

امتحان یې واخېست.

۲- استمراري ماضي: چې د **فعل** دوام یا بهیر اوس مهال پورې وښیي. لکه:

تا لیده، خط یې لیکه، امتحان یې اخېسته، او نور.

۳- نږدې ماضي: هغه چې اوس مهال ته نږدې وي، لکه: ما لیدلی دی، خط یې لیکلی دی، دوی لمبلي دي، امتحان یې اخیستی دی او نور.
۴- لېرې ماضي: چې له اوس مهال څخه لرې وي، لکه: ما لیدلی و، مقاله یې لیکلې وه، دوی لمبلي وو،
آزموینه یې اخېستې وه او نور...
۵- احتمالي ماضي: چې کار په تېره زمانه کې له شك سره وښيي. لکه: تا به لیدلي وي. ډوډۍ به یې خوړلې وي او نور.

**امر فعل**: هغه دی، چې د یو کار د سرته رسولو غوښتنه کوي، یا په بل عبارت، هغه فعل دی، چې د هغې په واسطه د یو کار د کولو حکم کیږي، د امر فعل ورته وایي، لکه:وګوره! و لاړ شئ! راشه! کښېنه! وخوره، وخورئ او نور.
**د نهي فعل**: هغه دی، چې د یو کار نه کولو هیله او غوښتنه کوي، لکه: مه ځه، مه ځــئ، مه راځـه، مه راځئ.

**فعل د بڼې او شکل له مخې**
فعل د کارولو او ویلو له مخې دا لاندې ډولونه لري!
۱- د فعل اخباري بڼه: هغه فعلونه دي چې د کار کول یا کېدل په کې د خبر په ډول وښودل شي لکه: احمد په آزموینه کې بریالی شو. د آریایانو لومړی ښار بُخدي نومېده. بریالي خط ولیکه.

**۲- د فعل امري بڼه:** هغه فعلونه دي، چې کار په کې د امر او فرمان په توګه وښودل شي. لکه: دلته راشه! او زما خبره واوره، زما کتاب راوړه! هلکه ورته ووایه چې اوس مه راځه!
**۳- د فعل احتمالي او شکي بڼه:** هغه فعلونه، چې کار د شك په ډول وښيي. لکه: تا به ډوډۍ خوړلې وي؟ ته به هغه ته ووايې چې راشي؟ ګوندې سبا ته باران وورېږي.
**۴- د فعل شرطي بڼه:** هغه فعلونه دي، چې کار له یوه شرط سره وښودل شي. لکه: که درس ووايي، کامیاب به شي. که وختي له خوبه پاڅېږې، هر کار به دې تر سره شي. او ...
**۵- د فعل تمنایي بڼه:** هغه فعلونه دي، چې کار پکې د هیلې او غوښتنې په بڼه وښودل شي لکه: کاشکې ما استاد لیدلی وای. کاشکې مور ټول بریالي شو. هیله کوم په ټیلفون کې را سره خبرې وکړې.

**د فعل ریښه**

ریښه د فعل اصل او بنسټ دی او د فعل هغې برخې ته ویل کېږي، چې تاړي یا وندونه ور پورې ونښلي او نورې کلمې ترې جوړې کړي. لکه: د ( خوړ ) کلمه د یوې ریښې په شکل په نورو مثالونو کې وګورئ.
خوړلی، وخوړ، خوړلی و، خوړلې ده، خوړونکې، خوړل شوی، وبه خوړلی شي، خوړلی به وي.
لکه: څنګه چې ریښه د فعل اصل او بنسټ چوړوي. په نومونو کې هم ریښه اصل دی او له تاړو سره نوې کلمې جوړولی شي.

د مثال په توګه د کار کلمه په نورو مثالونو کې وګورئ: کاریګر، ناکاره، بېکار، کارکوونکې، همکار او نور.
همدارنګه د زړه کلمه هم په نورو مثالونو کې لیدلی شئ: زړوز، بې زړه، نازړه، زړن، زړه سوی له زړه او...

## قیدونه او ادات

لکه څرګنده ده قیدونه او ادات د وینا او کلام په توکیو کې زیات اهمیت لري، خو دا چې زیات تفصیل ته اړتیا نلري، ښه به دا وي چې دواړه ډولونه په یوه برخه کې بیان کړو.
قیدونه: له هغو کلمو څخه عبارت دي، چې د **فعل** او صفت سره یو ځای راځي او د هغوی په معنا کې قید او څرګنوالی پیدا کوي. یا په بل عبارت، قیدونه هغه کلمې دي، چې د **فعل** د پیښیدو ځای، وخت او یا د هغه څرنکوالی وښیي. لکه په دې جمله کې "ځلمی راغی" هېڅ قید نشته او که ووایو چې، ځلمی په خندا راغی. نو په دې جمله کې (په خندا ) کلمه د قید په توګه د **فعل** ( راغی) حالت مقید وي او د هغه څرنګوالی او کیفیت څرګندوي.
قیدونه د معنا او مفهوم له مخې ډېر ډولونه لري، چې په لاندې توګه بیانېږي:
**١- د زمان قید:** هغه کلمه ده، چې د یو **فعل** د پیښدلو وخت او زمان څرګندوي. یا چې یو **فعل** ته د زمانې او وخت قید ورکوي، لکه: زه پرون راغلم، اوس بېرته ځم ، ته سبا ته راشه او نور.

یا په لنډ ډول چې د وخت له مخې د یو **فعل** پېښېدنه او څرګندونه کوي، لکه: ما مې مور پرون ولیده.
خاطره ګهیځ راغلې وه. ورم کال مې کمپیوټر واخیست. پرون ورځ خوست ښار ته لاړ وم او...
د زمان قیدونه د شمېر له مخې زیات دي، چې دلته یې څو مثالونه راوړو: **کله کله**، هر کله، سبا، **بل** سبا، ورمه ورځ، لا ورمه ورځ، لاتر اوسه، هر وخت، سهار، مازدیګر، ماښام، سږ کال، تېر **کال** او نور.
**۲- د مکان قید**: هغه کلمې ته وایي، چې د یوه **فعل** د پېښېدلو ځای وښیي. یا چې د یوه **فعل** پېښېدنه د ځای او چاپېریال له مخې وښیي. لکه: نژدې راشه، پاس وخېژه، امین لږ وروسته راځي. احمد به بېرته راشي. مخامخ زمونږ کلی دی او نور.
**۳- د حالت قید**: هغه کلمه ده، چې د یوه **فعل** د پېښېدو حالت وښیي، لکه: په مېړانه به **خپل** وطن ساتوو. په مړو سترګو مه راګوره! په منډه راشه! لږ ورو ورو راځه. او نور
**۴- د شك قید**: هغه دی، چې شك، ابهام او د باور نشتوالی افاده کوي، او دا دي:
( ګوندې، ښایي، ګنې، بویه، خدای خبر، لکه، بلکې، جوړ. )
مثالونه:
ګوندې: ګوندې امین راغلی وي، ګوندې سبا راشي.
ښایي: ښایي زلمی ستا خبره ومني، ښایي ستا کار وکړي.
بویه: بویه چې راشي. او نور.

**۵- تأکیدي قید**: هغه قیدونه دی، چې د یو کار او یا یو څیز د تأکید او ټینګار **معنل** څرګندوي او په لاندې ډول دي:
**خامخا**: خامخا به سبا راځي.
هرومرو: هرومرو به توریالی ماته راولې.
بیخي: بریالی بیخي زما خبره نه مني، دی بیخي لېونی دی.
خپله، پخپله: دغه دوه کلمې د اشخاصو د تأکید لپاره د جملو په ترڅ کې استعمالېږي، لکه: زه پخپله ځم، حلیم په خپله دا کار کولی شي، پخپله مقدس راوله.
په ځان: دغه کلمه د اشخاصو او څیزونو د تأکید لپاره راوړل کېږي، لکه: دی په ځان د حیلم ورور دی، دا په ځان زما قلم دی.
کټ مټ: دی کټ مټ د هغه په شان دی.
هو به هو دی هو به هو زما خبره کوي.
د نفي او انکار تأکیدي قیدونه
د نفي د تأکید او انکار کلمې هغه دي، چې یوازې د منفي حکم تأکید کوي. په لاندې ډول دي:
هېڅ: حمید هېڅ نه خوري، دا کار په هېڅ ډول نه کېږی.
هېڅوك: دلته هېڅوك نشته.
هېڅکله: ارغوان هېڅکله بده خبره نکوي، دا کار هېڅکله نه کېږي.
هېچېرې: دا مال هېچېرې نه پیدا کېږی.
هیچا: ذبیح له هیچا سره جنګ نه کوي.
هېڅ شان: امین په هېڅ شان له خپل کار نه لاس نه اخلي.

له سره: حمید له سره زما اشنا نه دی.

**ادات او توري:**

نا خپلواکه توکي اوکلمې: هغه کوچني توکي، چې په یوازې توګه نه کارول کېږي، که په ځانګړي توګه وکارول شي مانا نه ورکوي.

لکه: و، د، له، بې، کې، سره، ځینې.....

نا خپلواکه توکي ډېر ډولونه لري، چې ځینې یې دا دي:

**سرینه او پسینه**

سرینه او پسینه (لاحقو او سابقو) هغه ادات دي، چې له نوم او یا صفت سره یو ځای کېږي، یوه نوې معنا افاده کوي او د یوې ځانګړې کلمې بڼه غوره کوي. دغه یو ځای کېدونکي ادات په دوو ډلو وېشل کېږي، چې په لنډه توګه ښودل کېږي:

۱-**سرینې**: هغه توکي چې له خپلواکو کلمو څخه د مخه راشي، لکه: په موټر کې ناست وم. له حلیم سره راغلم. د نیکونو غوندې مو وطن وساتئ!

۲-**پسینې**: هغه توکي دي چې تر خپلواکو کلمو وروسته راشي، لکه: د خبرو کولو له پاره وخت نه لرم. په چا پورې نه خاندم. افغانانو په تاریخ کې مېړانه ښـودلې ده.

۳- **د ربط** توري: هغه توکي دي چې د یوې جملې د اجزاوو تر منځ د تړون له پاره راځي. او دوه جملې یا دوه برخې سره نښلوي. یا د ربط (ارتباط) توری په پښتو کې د دوو کلمو او دوو جملو تر منځ د نږدیوالي او ارتباط وظیفه اجرا کوي. لکه

په دې جمله کې، ځلمی له کوره راغی. (لــه) د ربط(ارتباط) توری دی چې د کـور، ځلمي او راغــی تر منځ نژدېوالی او تعلق پیدا کوي. د ربط (ارتباط) توری ډېر قسمونه لري او د بېلا بېلو مطلبونو د پاره راځي. د ربط (ارتباط) اصلي توري دا دي:

" له، ته، لره، په، کــې، پر، تر، له، بــې " ځېنې نور توري هم شته چې کله ځانله او کله د تاکید او ټینګار په ډول استعمالیږي او هغه دا دي: " نه، څخه، ځنــې، کره، د پاره، باندې، کې، لاندې، پورې، په شان، غوندې، هسې، پســې " او نور. مثالونه یــې په لاندې ډول دي:

توریالي په کټ کې ناست دی. پر مېز باندې څه پرته دي؟ د زړه نه مې خدای خبر دی. د منصور هسې په دار نشي رحمانه. تر ورخه تېرې اوبه نه راګرځي. بې علمه ژوندون ګران دی. له بازاره زه راغلم او د نرخه ته خبر یې. په اوښ پســې جونکۍ روان وي. د نیکونو غونــدې مو وطن وساتئ. او نور.

**۴-د عطف توري**: د عطف توری هم د ارتباط وظیفه اجرا کوي خو زیات د دوو جملو په منځ کې د ارتباط او تړون د پاره راځي. یا هغه توکي دي، چې د دوو کلمو یا دوو برخو تر منځ راشي او یوه برخه له بلې برخې سره وتړي.

د عطف توري دا دي: ( او، یا، بیا، هم، پسې

او: د دوو نومونو، فعلونو او جملو د ارتباط لپاره پکاریږي، لکه: حلیم ځي او راځي، توریالی پاتې شو او زه راغلم.

هم: د دوو جملو د ارتباط لپاره استعمالیږي، لکه: کبیر هم وژړل او هم یې وخندل، هم خُرما هم ثواب.

بیا: د دوو جملو د ارتباط لپاره کارول کېږي او ترتیب او تسلسل افاده کوي، لکه: اول هارون ولاړ، بیا حلیم ولاړ، اول مې پړ کړه بیا مې مړ کړه.
پسې ورپسې: د دوو جملو د ارتباط لپاره کارول کېږي او د ډېر ترتیب او اتصال معنا افاده کوي، لکه: اول ځلمی پسې توریالی ورپسې امین له کوره ووتل.
په پښتو کې ځینې نور توري هم شته، چې سر بېره په خپلو خاصو ماناګانو د عطف توري کار هم ځینې اخېستل کیږي، لکه: (بل، ترڅو، سره د دې، په تېره، کـه، له، سربېره، که څه هم، لکه چې، او نور) مثالونه یې دا دي:
یو مې دلبر ځي بل رانه زړه وړي. زه پرون راغلی وم، لکه چې په کور کې نه وې. باران ډېر وشو سره د دې هوا ګرمه ده. تا ته ودرېدم ،که نه اوس به رسیدلی وم. لرګي هر مهال اړین دي، په تېره په ژمی کې.
- په پښتو کې د ندا، تعجب او افسوس توري د کلمو په سر کې راځي او یواځې د ندا، تعجب او افسوس مقصد ادا کوي، لکه: اې وروره! او هلکه! هی هی دا څه چل وشو!- اوهو څومره خلك راغلي دي! اُف خدایه مړ شوم!
د نفې توري په پښتو کې دا دي: ( نه، مه، نا، بې) لکه نه ګورئ، نه دی راغلی، مه کوه، مه راځه، نا بللی، او...
**۵- تاړي ( وندونه ): هغه نا خپلواکې کلمې دي، چې د خپلواکو** په سر او پای کې نښلول کیږي. او نورې کلمې ترې جوړیږي.
تاړي په دوو برخو وېشل شوي دي:

**۱- مختاړي**، پیشوندونه ( **لاحقه** )

**۲-** وروستاړي، پسوندونه ( سابقه )

**الف: مختاړي**: هغه نا خپلواکې کلمې دي، چې د کلمو په سر کې نښلول کیږي. لکه: بې کار، نا کار، نه کول، همکار او ...

**ب: وروستاړي**: هغه نا خپلواکې کلمې دي، چې د کلمو په پای کې نښلول کیږي او نورې کلمې ترې جوړې شي. لکه: زرګر، ختګر، خوستوال، ولسوال او نور.

پای

**په مینه!**

**استاد خادم غیرت**

اړیکه: ۰۷۷۰۶۷۶۷۴۸
ایمیل ادرس: nasibkhadem38@gmail.com
فیسبوك ادرس: خادم غیرت
وټساپ: ۰۷۷۰۶۷۶۷۴۸